مطبوعاتي خـــبر پاڼه

دفترسخنګو واطلاعات و ارتباط عامه
وزارت زراعت، آبیاری و مالداری
شماره تماس: 0744389838
ایمیل:
media.agriculture@mail.gov.af
ویب سایت: www.mail.gov.af

د ۱۳۹۶ کال لپاره د کرنې وزارت تیاری او د میوه لرونکو بڼونو جوړولو لپاره اړین تګی

۱۳۹۵ کال د کب ۷ ، کابل- افغانستان

کرنې، اوبو لګونې او مالداری وزارت د کروندګرو څخه د ملاتړ، د ښه کیفیت لرونکو میوو تولیدولو، بڼونو ته د پراخوالی ورکولو او د هیواد د سمسورتیا په برخه کې د قوریه لرونکو ټولنو او په دې برخه کې د همکارو پروژو د مرستې په ترڅ کې بڼ جوړونکو ته د ویش په موخه د ۱۳۹۶ کال لپاره دوه میلیونه، یوسله شپیته زره اصلاح او تصدیق شوی میوه لرونکي نیالګی برابر کړي په دغه نیالګیو کې د مڼو، زردالیو، بادامو، آلو، شفتالو، ناک، بهی، انګور او داسې نور میوه لرونکي نیالګی شامل دي.

نو په همدې موخه مینه وال کولای شي، اصلاح شوي او د باور وړ نیالګي په مناسب قیمت سره، د قوریه لرونکو له ټولنو او په ولایتونو کې د کرنې له ریاستونو څخه، چې د کرنې وزارت لخوا د پخوانې میکانیزم (د ولایتونو دکرنې دارنه مقام ته د ورتلو) په توګه برابر شوي دي، تر لاسه کړي.

دکرنې وزارت کارپوهان د بڼ جوړولو مینوالو ته د مثبتو پایلو او د ښه حاصل تر لاسه کولو او همدا راز مخکې له مخکې د خطرناکو زیانونو څخه د مخنیوي په برخه کې لاندې لارښونې کوي.

- د هر نیالګي لپاره باید ۱ متر عرض او ۴۰ سانتي متره ژور والی په پام کې ونیول شي.
- دهرو دوه نیالګیو ترمنځ باید له څلورو څخه تر شپږو مترو پورې فاصله په پام کې ونیول شي.
- په محلي خاروره کې، چې نیالګی ایښودل کیږي. نیم ګیلاس تور کود دې ورسره ګډ شي.
- نیالګي باید د باور وړ مرجع (قوریه لرونکو) څخه ، چې دکرنې وزارت سره ثبت او راجستر وي، واخیستل شي
- د هر نیالګی په تنه باید لیبل(د نهال تصدیق شوی تکت) شتون ولري.
- د نیالګي ریښې باید د لمر له وړانګو، باد او باران څخه لرې وساتل شي.
- په فنی ډول سره باید د بڼ نقشه و کښل شي.
- د نهال ریښې باید قطعه نشي.
- نیالګی باید زخمي نه وي
- په اړوند ولایت کې دې نیالګي، باید له نړدې قوریې څخه واخیستل شي(د یوه ولایت نیالګي دي په بل ولایت کې نه ایښودل کیږي.)
- کله چې له قوریې څخه نیالګی ایستل کیږي، باید په ډیر کم وخت کې دې بڼ ته یوړل شي
- نیالګي باید پیوند او اصلاح شوي وي.
- د نیالګی قطر باید د ۱۲ او ۱۶ ملی ترو تر منځ وي
- د ایښودل شوي نیالګي لوړوالی باید له یوه متر څخه زیات نه وي

د پورته یادو شویو ټکو ته د پاملرنې په ترڅ کې به له یوه اړخه د بن جوړونکو پانګه بیځایه نه ځي اوله بل اړخ څخه به د هیواد کروندګر، چې دا مهال ډیر زیاتې مرستې او ملاتړ ته اړتیا لري، له هغوی سره به مرسته شوې وي.